**د۱۳۸۲کال رپوټونه**

**په ۱۳۸۲کال کې دکړنو لنډیز**

**دکنترول او پلټنې ادارې دافغانستان اسلامی انتقالی دولت د(۱۶۵) شمیرې ۱۳۹۲/۹/۹** نیټې **حکم سره سم دچارو عمومی ادارې او د وزیرانو شورا دارالانشا څخه مجزا اود یو خپلواک او بی پلوی بنسټ په توګه دریاست دولت په چوکاټ کې مینځته راغلې ده چې کاري برنامې،پلټنې ، کړنې ، لاسته راوړنې او ستونزې په لاندې توګه واندې کیږي :**

**کاري برنامې**

۱-په مرکز او ولایاتونو کې د (۳۴۶) مراجعو دمالي او حسابي چارو دپلټلو دپلان طرحه.

۲- د بیا رغونې فند ARTFاود WB مرستو پلټنې د د PKF.همکارې کمپنی دپلټونکو په ګډون

۳- په پلان کې شاملو مراجعو ته دپلټنې په موخه دپلټونکو دګروپونوتوظیفول .

٤- اړونده مراجعو ته دتیروتنواو نیمګړتیاو د اصلاح په موخه دپلټنو دپایلوابلاغ

۵- ددفترونو او تجهیزاتو بیا رغونه.

٦- دکتابتون جوړول

۷- داداري دنړیوالو اړیکو پراختیا دپلټنې عالي ادارو سازمانونو (انتوسای، ایکوسای، اسوسای) او دنورو هیوادونو دپلتنې عالي ادارو سره .

۸- دعینی کنترول تر سره کول

کړنې

۱- په تعداد ۳٤٦ مرجع چې پکښې وزارتونه ، تصدیګانې ،موسسې او داسې نور ارګانونه شامل دي په پلازمینه او ولایتونو کې پلټل شوې دي.

۲- په تعداد (۱۳۲) ارزول شوي اوترششنې ورسته دپلټنې رپوټونو پایلې دنیمګړتیاو ، تیروتنو داصلاح اودتفاوتونو دتحصیل په موخه اړونده مراجعو ته استول شوي دي.

۳- په ۱۳۸۲کال کې دوه ځلې دکادرونو دځای پر ځای کیدلو ، اودعوایدواو لګښتونو دسالم تحقق ،دتوکو دبرابرولو طرز، د اداري دپلټونکو له لوري دبهرنیو مرستو قید او ثبت ،په برخه کې عیني کنترول تر سره شوی ده .

٤-په تعداد (۲٦) قضیې چې ٤۸ ملیون افغانی چې جرمی مـاهیت درلود د تحقیق په موخه لوی څارنوالی ته لیږل شوي دي.

۵- دانګلیسي ژبې ، کمپیوتر او پلټنې کورسونه د PKF سلاکارانو په همکارۍ سره پرانیستل شوي .

٦- داداري نړیوالو اړیکو دپلټنې عالي ادارو سازمانونو (انتوسای، ایکوسای، اسوسای) او دنورو هیوادونو دپلټنې عالي ادارو سریې پراختیا موندلې ده .

۷- سره له دې چې اداري دکنترول او پلټنې لارښود ترتیب کړی ده ، دپلټونکو کادري لایحه تنظیم اودلومړۍ مرحلې غوښتنې منظوري یې داصلاحاتو محترم کمیسون ته استولې ده.

۸- د(۱۷۵۰) ټوکو هر ډول کتابونو په درلودلو سره دکتابتون پرانستل.

۹- په ۱۳۸۲ کال کې مبلغ (۵۹) ملیونه دمالیې نه وصع کولو،صکوک ، کمرکي محصول ، جرمونو، کم سنجیشي او داسې نورو مدرکونو څخه بیرون نویس شوي اود تحصیل وړ کښل شوي دي.

۱۰- په ټاکلي موده کې مبلغ (۲٤) ملیونه افغانی داداري دپلټلو په ترسرکولو سره تحصیل او تصفیه شوې دي.

**نوت:** په رپوټ کې لیکل شوي ارقام دوخت رایجې پیسې دي.

۱۱- په ادارو کې عینی کنترول تر سره کول

عیني کنترول دلومړي ځل لپاره د۱۳۸۲کال دسلواغې له ۲٤-۳۰ نیټې پورې داداري دمقام په لارښوونې اودپلان او ششنې ریاست په همکارۍ سره په وزراتونو ادارو ،تصدیانو او موسسیو کې تر سره شوه چې لاندې موارد پکښې رانغښتي:

۱- د معاشونو او اضافه کارۍ داصولي ویشلو څرنګوالی.

۲- د وزیرانو شورا دحکمونو او مصوباتو تحقق.

۳- د قراداونو له خوا دورکړل شویو جنسونوتطبیق له نمونې سره.

٤- دبودجې اود کال دتشکیل ترتیب طی مراحل.

٥- دمعتمدینو دتحت دوران اسنادونو تصفیه.

٦- د وړاندیز شویو عوایدوتحقق او باقیمانده اندازه.

٧- دترمیماتي او ودانیزو کارونو ثانی برآورد.

٨- ددولت وارداتو ته دمرستو دقیمت لیږد او د قید اوجمع تشریح.

٩- دمعتمدینومحسوبی او تصفیه حساب.

١٠- دقطعیه او لګښتونوراپور دمالیې وزارت ته .

١١- دکال دورستیو موجوی پیل.

دکنترول او پلټنې اداري عیني کنترول اغیزمنې پایلې لرلې چې دپایلو رپوټ یې دجمهوري ریاست محترم مقام ته لیږدول شوی ده.

١٢- دمرستو دپلټنې ریاست څخه دې دبهرنیو مرستو پلټنې تر سره شي ؟

١٣- داصلاحي او رهنمودي نظرونو وړاندې کول

دکنترول او پلټنې اداري دخپلو پلټنو دپایلو رپوټونه وزراتونو، ادارو، موسساتو، ښاروالیو او نورو ارګانونو ته لیږلي دخپلو اصلاحي نظریاتو په ورکولو سره یې ددوي په کړنو کې نیمګړتیاو او تیروتنو کې سمون رامینځته شوی ده.

دپلټنې دلارښود او فارمټونو طرحه او ترتیب

دکنترول او پلټنې اداري دموقتې اداري له ایجاد څخه مخکې دپلټنې دپایلو توحیدي رپوټونه نه درلودل ډیری دپلټنې رپوټونه شپږ میاشتني او کلني وه او غیر معیاري توګه جوړیدل ١٣٨٢ کال کې دلومړي ځل لپاره شپږ میاشتني او کلني دقوانینو او رعایت دپلټنې رپوټونه دکنترول او پلټنې اداري دمشرتابه په لارښوونه دپلان او شننې ریاست له خوا په یو ځانګړي فارمت کې ترتیب او پلې شو .

همدارنګه پدې کال کې دادارې  دپلټنې پلان په ربعوار او په ساده شکل سره ترویج شوی ده  .

او همدارنګه د ادارې دمقام دهدایت پربنسټ دکنترول او پلټنې لاربنود هم دموظف کمیسون له لوري جوړاو ترتیب شوی ده  .

دتوحیدي رپوټونوترتیب او وړاندې کول

دکنترول او پلټنې اداري موقتي دورې  دپلټنو دپایلو توحیدي رپوټونه  داړتیا سره سم ترتیب اود چارو ادارې محترم عمومي ریاست ته استولي دي.

۱۵-  دادارې ستونزې

**۱.کورنۍ**

دادارې دشعباتو دتنظیم لپاره دودانۍ نشتوالی.

دتجهیزاتو اوددفتر دلوازموکمبود.

دځینو پلټنوکو دمسلکي تجربې دکچې ټیټوالی چې په مخکې کلونو کې ګمارل شوی دي  .

**۲. بهرنۍ**

دپلټنو دترسره شویو پایلو دتطبیق په برخه کې دځینو بنسټونو نه پاملرنه  .

دځینو ادارو نه چمتوالي  دهغو اسنادونو په وړاندې کولو کې چې  دپلټنې پلان له ځنډ سره مخ کوي  .